# خان عبدالولي خان او سياسي اتحادونه

لياقت سيماب



د خان عبدالولي خان سياسي پوهه او بصيرت يو ځانګړې حيثيت لري. کله چې نوموړې د نيشنل عوامي پارټۍ په دوه برخو کښې د تقسيېدو نه پس د ګوند صدر منتخب شو نو هغه ته ډېر چېلنجونه مخې ته پراتۀ وو. يو طرف ته د مولانا عبدالحميد خان بهاشاني په مشرۍ کښې يوه ډله د نيشنل عوامي پارټۍ نه جدا شوه د هغې په نتيجه کښې د ګوند د يوې درنې برخې قيادت لاسو اخستل په خپله يو ګرانکار ؤ او بل طرف ته د ايوب خان آمريت سره مقابله کول وو. دې دور کښې ځينې خلق په دې عقيده وو چې مولانا بهاشاني نيشنل عوامي پارټي د ايوب خان په جولۍ کښې اچولې وه او په ډېرو چارو کښې ئې د ايوب خان د پاليسو مرسته کوله. دا رويه د نيشنل عوامي پارټۍ دپاره د يو پېغور نه کمه نه وه. بل طرف ته د ايوب خان آمريت دومره په جوبن کښې ؤ چې د ملک په ټولو جمهوريت خوښو،انصاف غوښتونکو او د انساني حقونو په علمبرداروي د ظلم او زياتي هغه انتها کړې وه چې مقابله ئې د هر چا د وس کار نۀ ؤ. نيشنل عوامي پارټي چې دې زمانه کښې د کومو مشکلاتو سره مخ وه که د عبدالولي خان غوندې د

اعلى بصيرت،سياسي پوهې او د مضبوطو اعصابو خاوند ته د ګوند قيادت لاسو کښې نه وے ورکړے شوے نو شايد چې نيشنل عوامي پارټۍ خپل وجود په ځائې نه وے ساتلے او دا ګوند به د بين المللي استعمار او د ايوب خان د آمريت د سازشونو ښکار شوے وے. ځکه چې نيشنل عوامي پارټي صرف د پاکستان د حکمرانانو او حکمرانه طبقو د سترګو ازغے نه وه. بلکې بين المللي سامراج هم دا ګوند خپل دښمن ګڼلو او داسې يوه لمحه ئې هم د لاسه نۀ ورکوله چې دې اولسي او ملي ګوند ته خنډان جوړ نه کړي.

دې زمانه کښې پاکستان د امريکې سره د سيټو او سينټو په دفاعي لوظنامو کښې ګېر ؤ. د سينټو د لوظنامې ترمخه امريکې پېښور کښې د بډبيرې په مقام يوه فوځي اډه جوړه کړې وه. دا اډه امريکې د هغه وخت د شوروي اتحاد (Soveit union) خلاف استعمالوله. نيشنل عوامي پارټي د دې اډې او د سينټو او سيټو د معاهدو خلاف اولسي تحريک چلولو. يعنې نيشنل عوامي پارټي يو طرف ته نه صرف د جمهوريت د بحالۍ،د پاکستان خلقو ته د انساني حقونو ګټلو او د مغربي پاکستان د تش په نامه يو يونټ خلاف تحريک چلولو کښې اخته وه او بل طرف ته ئې د عالمي سامراج او استعمار په خلاف ملا تړلې وه.

په داسې حالاتو کښې نيشنل عوامي پارټي صرف د يو سياسي ګوند په حيث مبارزه نه وه بلکې د يو اولسي او ملي تحريک ځائې ئې نيولے ؤ. دښمن ئې يو نه ؤ. په درځنونو دښمنان ئې لرل. په داسې شرايطو کښې چې خان عبدالولي خان کومې په زړورتيا او بصيرت خپلې ذمه وارۍ سرته رسولې دې هغه د پاکستان د سياسي تاريخ يو ځلنده باب دے.

د نيشنل عوامي پارټۍ منشور ګڼې ايجنډې لرلې. د پاکستان په سطح د ګوند غټو مطالبو کښې ملک ته يو نوے وفاقي پارليماني آئين ورکول. د مغربي پاکستان يو يونټ ماتول او زړې صوبې په ځائې کول شامل وو. دې سره سره چې د مغربي پاکستان او مشرقي پاکستان ترمېنځه کومه د پيرټي په نوم فارموله وه د هغې په ځائې د آبادۍ په تناسب مرکزي پارليمان کښې دواړو برخو ته نمائندګي ورکول هم د ګوند د منشور يوه اهمه برخه وه.

دې لړ کښې د نيشنل عوامي پارټۍ په لاره کښې صرف د ايوب خان فوځي آمريت خنډ نه ؤ بلکې د ملک ښي اړ خبره سياسي ګوندونه هم د نيشنل عوامي پارټۍ سره متفق نه وو. د ذوالفقارعلي بوټو د نوې جوړې کړې پاکستان پيپلز پارټۍ په شمول د مسلم ليګ ټولې ډلې د نوابزاده نصرالله خان عوامي ليګ، د چوهدري محمد علي نظام اسلام پارټي او جماعت اسلامي هم د يو يونټ په حق کښې وو. د ځينې ګوندونو خو د صدارتي،پارليماني،وفاقي او وحداني حکومتونو سره هم څه غرض نه ؤ. د دوي ترجيحات څه نور څه وو.

د مولانا مفتي محمود جمعيت علماء اسلام هم دې اهمو سياسي چارو کښې څه واضح موقف نه لرلو. صرف د مشرقي پاکستان سياسي ګوندونو نيشنل عوامي پارټۍ (بهاشاني ګروپ)

او د شیـخ مجیب الرحمان په قیادت کښې عوامي لیګ پـه ځیـنې مـعـامـلو کښې د نیشنل عوامي پـارټۍ سـره خپـل اواز یو کړے ؤ خو شیخ مجیب الـرحـمان د مغربي پاکستان یو یونټ ماتولو او یا په ځائې ساتلو کښې هم څه غرض نه لرلو.

دې حـالاتو کښې خان عبدالولي خان د یو زړور او بـصیـرت لـرونکي په حیث داسې قدمونه پـورتـه کړل چې د ایـوب خـان او ورسره ورسره د ټـولـو مـخـالـفیـنو خولې ئې بندې کړې. د ازلي دښـمـنـانـو د تـوپو خولې بل طرف ته واوړیدې. د نـواب زاده نـصـرالـلـه خان په مشرۍ کښې ټولو سیـاسـي ګـونـدونـو د جـمـهـوري مـجـلس عمل (Democrotic action commitee) پـــه نـوم یو سیاسي اتحاد جوړ کړو. دې سیاسي اتحاد کښې د خـان عبـدالـولـي خان کردار ډېر جوت او د یـادولـو وړ دے. جـمـهـوري مـجـلس عمل خپلـه مبـارزه شـروع کړه او پـه حـکومت ئې دومره دباؤ واچـولـو چې ایـوب خـان دې ته تیار شو چې د دې مجلس مشرانو سره خبرو اترو ته کیني. بل طرف تـه د ذوالفقارعلي بوټو خپل رباب ټنګولو او ځان ئې د جـمـهـوري مـجـلـس عمل نه جدا ساتلے ؤ. د مـولانـا بهـاشـاني نیشنل عوامي پارټۍ هم د دې اتحاد نه ځان بهر ساتلے ؤ.

یـو طـرف تـــه پـــه ایوب خان د جمهوري مـجلس عمل دباؤ ؤ او بل طرف ته د ذوالفقارعلي بـوټو جلسو او جلوسونو په ایوب خان زمکه تنګه کړې وه. شـایـد چې ایـوب خـان پـه دې وجـه هم جـمهوري مجلس عمل سره خبرو کولو ته ترجیح ورکړې وه چې هـغـه ذوالـفـقارعلي بوټو ته په یو حال کښې هم لاره ورکولو ته تیار نه ؤ.

ایـوب خان د جمهوري مجلس عمل کښې د شـامـلـو ګـونـدونو یو ګول مېز کانفرنس په ۱۹ فروري ۱۹۲۹ کښې راوغـوښـتـو. دې دپاره ئې د مـجـلـس عمل په دباؤ شیخ مجیب الرحمان په پے رول د جیل نه راویستو خو دا ګول مېز کانفرنس د لـوئې اختـر د چټیـانو په وجه تر ۱۲ مـارچ پورې وځنډولے شو. په ۱۵ مارچ لاهور کښې د جمهوري مـجـلـس عـمـل یوه غونډه وشوه چې د ګول مېز کـانـفـرنس دپاره د مطالبو یو متفقه فهرست تیار کړي. دې غـونډې دا فېـصـلـه وکړه چې پاکستـان کښې دې وفـاقي پارلیماني نظام قایم شي. د بالغ رائے دهـي په بنیاد دې انتخابات وشي او د ۱۹۵۶ آئیـن دې بحال شي او د مغربي پاکستان یو یونټ دې مـات کړے شـي. پـه دې فېصله ټولو مشرانو دستخطونه وکړل.

کله چې په ۱۲ مارچ راولپنډۍ کښې ګول مېز کانفرنس شروع شو نو نوابزاده نصرالله خان د خپـلو مطالبو نه د یو یونټ د ماتولو خبره اویستـه او ایـوب خـان تــه ئې ووئیـل چې پـه نورو ټولو مـطـالبـو مـونږ ټـول مـتـفق یو ولې د یو یونټ په مـاتولو باندې زمونږ اتفاق نشته. چوهدري محمد عـلـي او د جماعت اسلامي مشر مولانا ابوالاعلی مـودودي د نـوابزاده نصرالله د موقف تائید وکړو. نـور ټـول مشـران خـامـوش پـاتې شول خو خـان عبـدالـولـي خـان ډېـر پـــه سختۍ سره د نوابزاده نـصـرالله خان موقف رد کړو او ایوب خان ئې خبر کړو چې پــه دې ټـولـو مـطـالبو دې ټولو مشرانو دسـتـخـطـونـه کړي دي نو څنګه اوس دے دا وائي

چې پــه دې مــونږ متــفق نهٔ یو د عوامي لیګ مشر شیـخ مـجیـب الـرحـمـان د خـان عبدالولي خان د موقف مرسته وکړه.

دلتـــه دا خبـره د یـــادولو ده چې د لاهور د متـفـقـه فېصلې خبر د ریډیو پاکستان په خبرونو کښې هـم په هغه وخت نشر شوے ؤ او دې کښې د یـو یـونټ د مــاتـولـو خبـره هم شـاملـه وه. خـان عبـدالولي خان د نوابزاده نصرالله خان په دې غیر مناسبه او بې دلیله موقف انتهائي غصې واخستو او وروستـو ئې بیـا د جـمهـوري مجلس عمل نه د لارې بېلولو فېصله وکړه. خو خان عبدالولي خان د یـو زیـرک او متـحرک سیاستدان په حیث د ون یـونټ خـلاف رائے عامه داسې هواره کړې وه چې هیڅ چـا سـره بـلـه لار نـه وه سوا د دې نه چې د یو یونټ د ماتولو مرسته وکړي.

حـالات دې حـد تـه رسیدلي وو چې ایوب خـان خپـل حـکومت او واک ټینګ نه کړے شو او اقتدار د فوځ کمانډر انچیف جنرل یحی خان خپلو لاسـو کښې واخستـو. مـارشل لا نافذ شوه. خو د خـان عبدالولي خان سیاست هم هغه شان متحرک پـاتې شـو. خـان عبـدالولي خان د ون یونټ خلاف دومـره لاره هواره کړې وه چې د مغربي پاکستان د مـارشل لا ایډمنسټریټر او ګورنر ائیر مارشل نور خان ئې هم خپل مرستیال جوړ کړے ؤ.

بـاخبره سرچینې وائي چې دا د ایر مارشل نـور خـان دبـاؤ او موقف ؤ چې جنرل یحی خان ئې دې تـه مـجبور کړو چې د یو یونټ د ماتولو اعلان وکړي. جـنـرل یـحی خان په ۲۵ مارچ ۱۹۲۹ نه صـرف د زړو صـوبـو د بحالولو اعلان وکړو بلکې ورســـره ورســـره ئې د ســوات،دیــراو چتــرال د ریـاستــونـو مغربي پاکستان او بحال شوې صوبه سـرحد (پښتونخوا) کښې د ضم کولو فېصله هم اعـلان کړه. دا د خـان عبـدالـولـي خـان د کامیاب سیـاسـت هـغـه پوړۍ ده چې تاریخ کښې به تل د ځانګړي باب په حیث ځلېږي.

کله چې ذوالفقارعلي بوټو د خپل واک په دوران کښې د جمهوري لارې نه پښې کوزې کړې او ټـول جـمهوري قدرونه ئې د پښو لاندې کړل نو خـان عبـدالـولـي خـان مـجبور شو چې د دې نوي آمـریـت مخنیوے وکړي. خو خان عبدالولي خان تـه ګـرانـه وه چې صـرف د خپـل ګـوند کارکنان د قـربـانۍ ګډوري کړي. دا فېـصلـه ئې وکړه چې د مـلـک نـور سیاسي قوتونه هم د ځان سره کړي. دا هــغــه دور ؤ چې ټـول پـــاکستـــان کښې د خـــان عبـدالـولـي خـان سیاسي شهرت خور ؤ. یو نوے سیـاسي اتحاد په کال ۱۹۷۳ کښې په وجود کښې راغلو. د خان عبدالولي خان دې سیاست ته ګورۍ چې د سـنـدهـــ پیـرپګاړه ئې د نوي اتحاد متحده جمهوري محاذ مشر جوړ کړو.

ذوالـفـقـارعلي بوټو نهٔ سره د ډېر غرور نه ساګ سیلۍ یوړو. دې اتحاد په ۲۳ مارچ ۱۹۷۳ د پینډۍ لیاقت باغ کښې دومره لویه اولسي جلسه وکړه چې د بـوټـو د پښـو نه ئې زمکه وتښتوله او هـغـه د تشـدد او د ریاست طاقت د استعمالولو په لاره روان شـو. خـان عبـدالـولي خان دغه سیاسي اتـحـاد کښې دومره فعال رول ولوبولو چې د هغې اتحاد غړي تراوسه د خان عبدالولي خان د سیاسي

مـلګرتیا مثالونه وړاندې کوي او دې ټولو د زړۀ د اخـلاصـه د خان عبدالولي خان جنازې ته اوږې هم ورکړې او تـراوسـه د هـغـه نـوم په عزت او احترم اخلي.

کـلـه چې ذوالـفـقـارعـلي بوټو په ۱۹۷۷ کښې د عـــامـو انتـخـــابـاتو اعلان وکړو نو ټولې سیاسي پارټۍ راغونډې شوې او د قومي اتحاد په نـوم ئې د نـوي سیـــاسـي اتحـاد اعلان وکړو. هر څـومـره کـه څـان عـبـدالولي خان دې وخت کښې حیـدر آبـــاد جیـل کښې ؤ ولې هـغـه د دې اتحـاد مـرسـتـه وکړه او د نیشـنـل عوامي پارټۍ په ځائې چې د سـردرا شیـرباز خان مزاري په مشرۍ کښې کـومـه نیشنل ډیموکریټک پارټي په وجود کښې راغـلې وه هـغـه د دې اتـحـاد یو اثرناکه برخه وه. حـالانـکې پـه دې اتـحاد د ښي اړخ د سیاستدانانو اثـــرات زیـــات وو. خـو د دې هـــر څـه ذمـه واره د ذوالـفـقـارعلي بوټو غیر مناسبه او غیر جمهوري رویه وه چې مشرقي او جمهوري قوتونه ئې هم په دې مـجبـور کړي وو چې د خپـلې بقا او جمهوري قـدرونـو د ســـاتنې دپـاره دې اتحـاد کښې شـامل شوي.

د ذوالـفـقـارعـلـي بوټو اقتدار هغه خلقو ختـم کړو څـوک چې دۀ د خپـلو سیاسي مخالفینو خـلاف استـعـمـالـول. چا چې په بلوچستان حمله کړې وه. یـعـنـې جـنرل ضیاء الحق د دۀ د حکومت تـخـتـه واړولـه. مـلـک یـوې بـلې مارشل لا خپله غېږه کښې واخستـو. یو بل آمریت لکه د خپسې د جـمـهـوریت مرۍ خپه کړه. دې وخت کښې د بل سیـــاسي اتحاد ضرورت پېښ شو. بوټو د مېنځ نه تـلـے ؤ د دۀ لور بینظیر بوټو په مېدان کښې ولاړه وه او د پـاکسـتـان خـلقو نه ئې د مرستې غوښتنه کـوله. د Movement for restoration of democracy (MRD) پـه نـامه یو بل سیاسي اتـحـاد پـه کـراچۍ کښې جوړ شو. خان عبدالولي خـان د دې اتـحـاد یو فعاله او متحرک ملګرے په دې اساس جوړ شو چې دې اتحاد د مارشل خلاف د تـحـریـک چـلـولـو فېصلـه وکړه او ملک کښې د جـمهوریت په حال کولو دپاره دې اواز اوچت کړو. کله چې د دې اتحاد نوم کښې د Restoration) (of democracy د جـمـهـوریت د بحالۍ الفاظ شـامـل شـول نـو خان عبدالولي خان طنزاً د دې په نـوم خپـل رائے داسې څـرګنده کړه چې پاکستان کښې جـمـهـوریـت کـلـه ؤ چې اوس یې تاسو بحال کول غواړئ.

خـو بیا هم خان عبدالولي خان د دې اتحاد پـه مخکښې بوتلو کښې پوره پوره مرستـه کوله. خان عبدالولي خان تل سیاسي اتحادونو کښې اهم کـردار ادا کړے دے خـو د اتحادونو ځینې مشرانو پـه خپـلـه د دې اتـحـادونو د بنیادي مقصدونو نه مخونه اړولي دي. د ایم آر ډي د مبارزې په نتیجه کښې ضیـاء الـحـق عـام انتـخـابـاتو کولو باندې مجبور شو.

کـلـه چې یو بل اتحاد د اسلامي جمهوري اتـحـاد پـه نوم جوړ شو نو خان عبدالولي خان دې اتحاد کښې د شاملولو نه ډډه وکړه. ځکه چې د دې اتحاد مقصد صرف اقتدار اخستـل وو.